
امین ماما د خواري کښو نړۍ واله ورځ
نمانځي- شامیانې لګېدلې دي- د کلي
ټول خلک یې راغونډ شوي دي-




امین ماما د چایو نه پس مېلمنو ته
مننه وائي- ماشومان د خپلو میاندو او
پلارانو د خوارۍ په حقله خبرې کوي-



شاکر وائي چې زما بابا مالي دے- د
دۀ د خوارۍ په وجه ټول چاپېر چل د
بوټو او ګلونو ډک دے- زۀ په خپل بابا
ویاړ کوم-



شازيه وائي، زما دادا پېزارونه، بستې
او د څرمنې څيزونه ګنډي- په مونږ سبق
وائي- زهٔ پرې فخر کوم-




ماجد وائي، زما مور په سکول کښې ترور ده- سحر کور کښې پخلے وکړي بيا سکول ته صفايۍ د پاره ځي- زۀ په خپلې مور فخر کوم-



حمیده وائي، زما مور هم مزدوره ده-
په پټو کښې مزدوري کوي- او زمونږ
ضرورتونه پوره کوي- زهٔ په خپلې مور
ویاړ کوم-



اخر کښې امین ماما وائِې، دا ټول خواري کښ زمونږ د پاره ډېر قَدرمن دي- مونږ دوي ته سلام کوو او ویاړ پرې کوو-



بنيادي سوال

ټول خواري کښ زمونږ د پاره څومره اهم دي؟

## د لوستلو صلاحيتونه او حکمت عملۍ

| | |
|---|---|
| اواز: | مختلف ارکان |
| د ټکيو پنګه: | نړي والي، خواري کښ، نمانځي، را غوښتي، وياړ، پېزارونه، څرمني، مزدوره، ضرورتونه، قدر من |
| ژب داني: | پيراګراف |

## لېولډ ريډر

په يو کلاس کښې د لوستلو د صلاحيت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، مينځنۍ او د بهترې درجې لوستونکي- د دې صلاحيتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ ريډر په نوم مختلفې قيصې ليکلې شوي دي- د دې لېولډ ريډر متن په رو رو سېوا کړے شوے دے- د لېولډ ريډرز بنيادي مقصد ماشومان خپلواکه لوستونکي جوړول دي- د 24 هفتو د پاره د لېولډ ريډر 8 سېټونه تيار کړي شوي دي- د هر لېولډ ريډر سېټ د پاره درې هفتې ټاکلې شوي دي- د هر يو لېولډ ريډر په شاتنې مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو متعلقه مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي-

د چپايۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړۀ پورې کوشش شوے دے- بيا هم کۀ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څۀ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ضلعي يا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوو-

## استاذانو د پاره لارښوونې

د وړومبيو دريو مخونو نه پس لانديني تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. د قيصې په شروع کښې څۀ کېږي؟
2. ماشومان د خپلو مياندو پلارانو په حقله څۀ وايي؟

د نيمې قيصې نه پس لانديني تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. نويد د خپل داجي باره کښې څۀ ووئيل؟
2. د شازيې پلار څۀ کار کوي؟
3. ستاسو بستې او پېزارونه څوک ګنډي؟

د قيصې په اخره کښې لانديني تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. ستاسو په خيال کوم کسب ډېر اهم دے؟ ولې؟
2. په خپلو ټکيو کښې دا قيصې خپل ملګري ته واوروئ؟
3. تاسو په خپل مور پلار فخر کوئ؟ ولې؟


www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلکو په مرسته د امريکې بېن الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن شوې ده- دا مواد يو ايس ايډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د يو ايس ايډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-